د قانون پل په عمل کي د کروشیا په هیواد کي

| | د موقف وضاحت | یو شخص د بین المللی حفاظت لاندي |
|---|---|---|
| د شخص حالات څرګندول | **پناه غوښتونکی:** هغه څوک دي چه بهرنی تابعیت ولري **او ظلم له امله ءي د** او پخپل هیواد کي **د مشکلاتو کروشیا هیواد ته بین المللی پناه راوړیږي.** د داراو مشکلاتو علتونه باید د نژاد، مذهب، ملیت، اویا هم د کوم خاص قوم او سیاسی لولیدله امله نشی کولاي پخپل هیواد کی محفوظ واوسی.<br>هر شخص چه د پناه غوښتونکی دي باید د خپل مشکل په اړه **انفرادي** دوسیه جوړه او کافی ثبوت او شواهد په لاس کی ولري ( د مثال په توګه: د تابعیت اسناد، عکسونه او ورته اسناد). | هغه څوک د بین المللی حفاظت لاندي دي چه هغه ته مثبت ځواب وروسته د پناه غوښتنی څخه ورکړل شوی وي. عموماً په دوه ډوله پناه ده:<br>**اوږده د مهاله پناه غوښتنه:** په دي ډول پناه غوښتنه کي شخص ته تر هغه مهاله پناه ورکول کیږي تر څو چه بیان شوي. مشکلات ءي په خپل هیواد کي نه وي حل شوي. او بعد له یوه اوږده مهال څخه دادول پناه غوښتونکی د تابعیت لپاره در خواست هم کوي.<br>دوهم ډول پناه **غوښتنه د یوي ځانګري موري یعنی لنډ مهال** لپاره ده چه د ارول پناه به تر هغو وي تر څو چه امنیتی وضعیت د پناه غوښتونکو په خپل هیواد کي نه وي ښه شوي. |
| محاسبه | د(۵۰۰۰) په شاوخواکي پناه غوښتونکی د (۲۰۰۴) څخه تحر (۲۰۱۶)کال پوري د کروشیا په هیواد کي درخواست کړي ده. | د (۱۷۷) اشخاصوته بین محافظت یا پناه د (۲۰۰۴) نه تر(۲۰۱۵)پوري ورکول شوي. |
| خرڅ او خوراک په شمول د اوسیدو ځای | د کروشیا په هیواد کي دوه ډوله د اوسیدو مرکزونه دي:<br>**د کوتینا مرکز د پناه غوښتنی:** د فامیلونو، ماشومانو، سپین ږیرو او ښځو لپاره په نظر کي نیول شوي.<br>**د زګرب ښار د پناه غوښتنی مرکز څه هوټلونه دي د** | هر هغه چاته چي مثبت ځواب د پناه غوښتنی لپاره ورکول شوي هغوي کولي شی چه د **دوو (۲) کالو** لپاره په اپارتمانونو او کورونو کي چه د **اجتماع د پاملرنه او ځوانانو د وزارت مالي مرسته نیول شوي** |

| | | |
|---|---|---|
| | **مجردو نارینه وو لپاره په نظر کي نیول شوي.**<br>• د اوسیدو ځاي په دوارو مرکزونوکي د نورو اشخاصو سره شریک او اطاق حد اقل د یوبل شخص سره یوځای ورکول کیږي. | و اوسیږي. اما بعد له (۲) کالو ځخه دوي باید خپل کار پیدا او د ځان لپاره د اوسیدلو امکانات برابر کړي. او که چیري بیاهم پاتی راغلل بیا دوی کولی شی چه د بی کوره او **سوالګرو د اوسیدلو په مرکزونو کي پاتی شي.** |
| اجتماعی ساتنی مرکز | د پناه غوښتونکو لپاره د دوی مرکزونو لخوا دورځی دری وخته ډوډی یا غذا په نظر کی نیول شوی او په ځنګ ءي کالی او ځینی د بدن د ضرورت وړ شیان هم په نظر کی نیول شوي. سربره پردي دوی ته د مرکز **لخوا (۱۰۰ ) کونا کرواتی چه (۱۳) یورو** کیږی هره ددي تر ځنګ دوی کولي ددي تر میاشت ورکول کیږي. شی چه د ځینی خیریه موسسه ځخه هم کمک ترلاسه کړي. | هغه اشخاصو ته چه پناه ورکول شوی او مثبت ځواب ورکول شوی دوی د کروشیا هیواد د اتباعو په څیر حقوق لري. دوي باید خپل ځانو نه د اجتماعی ساتنی مرکز کي د کارګر په حیث راجستر کوي. چه د هغه په مقابل کي دوي ته **(۸۰۰) کونا کرواتی د میاشتی ورکول کیږی.** دوي کولي شی چه د عامه اشپزخانو او یا هم د پکیج غذا ځخه استفاده وکړي چه د مرکز لخوا ورته ښول کیږي. ددي تر ځنګ دوي کولي شی د خیریه موسسو ځخه هم کمک ترلاسه کړي. |
| د روغتیا محافظت | **د عاجل صحی مشکل** حق تا سوته درکړل شوي. د اوسیدلو په مرکز کي ډاکتر دوه ځلی په هفته کي د دوه ساعتونه لپاره موجود دي.<br>د روانی مشکلاتونو هم تراپی په نظر کی نیولی که چیری څوک مشکل ولري.<br>د زګرب ښار مرکز جیم هم لري.<br>د کرتینا مرکز د سپورت سالون هم موجود دي. | **د قبول شولو پناه غوښتونکو لپاره د کروشیا هیواد د خلکو په شان د صحت سیستم په نظر کي نیول شوي.** دوي کولی شی د مرکز د کارت ځخه په استفادی سره د صحی خدمتونو مصرف ورکولی شی چه دروغتیا وزارت لخوا تمویلیږی.<br>د روانی ستونزو مرکز هم د مشکل په صورت کي د دوی سره مرسته کوي. |
| دنده او کار | **د پناه غوښتنکو لپاره اجازه ورکول شوي چه د ۹ میاشتو لپاره کار و کړي.** | د قبول شویو اشخاصو لپاره **ضرورت نشته چه د کار او تجارت لپاره اجازه نامه** واخلی. دوی کولی شی د کروشیا د کار موندني مرکز کی دړخواست وکړي او مشاورین به د میاشتی یو ځل تا سو سره په تماس کي وي. |

| | | |
|---|---|---|
| | | د کروشیا په هیواد کی (۲۰٪)په سلهنه کی خلک بی کاره دي. د دندي لپاره ضرور ده چه د کروشیا ژبی لیکل، لویستل، او خبری کول ءي زده وي.<br>د کروشیا هیواد کی خلک ۴۰ ساعته د هفتی کار کوي. |
| زده کړي | ماشومان به په ابتداءي او لیسی ښونخیو کی شامل شی. لویان کولی شی ترتیب شوي ورکشاپونه او سیمینارونو کی برخه واخلی. رضاکاران به د کروشیاي ژبی کورسونه د مرکز په داخل او باندي کی ترتیب کړي. | قبول شوي اشخاصوته د ژبی کورس د ۲ سمسترونو یعنی شپږ و میاشتو لپاره د دولت لخوا د ژبی د زده رکړي په ښوونخیو کي ترتیب شوي.<br>ماشومان به په ابتدای او لیسی ښوونخیو کي شامل شي.<br>همدا راز دوي کولي شی د کروشیای اتباعو په څیر زده کړی وکړی خو باید د زده کړی مصرف پخپله وکړي. |
| دین | د مذهب او دین آزادي او همداراز ددوي ماشومانو لپاره د دینی زده کړی آزادی وجود لري. | د قبول شویو پناه غوښتونکو لپاره هم په پورتنی ډول سره مذهبی او دینی آزادی موجود لړي. |
| سفر کول | که چیری تا سو َغواړی سفر وکړی نو تاسی کولاي شی د کروشیا د ننه هر چیرته چه غواړی لاړ شی، مګر مخکی بل ښار ته له تللو څخه باید پولیسو ته خبر ورکوي. همدا ډول تاسی نشی کولاي چه د کروشیا هیواد پریږدي. | د قبول شویو اشخاصو لپاره سفر کول د دوي د ورکړل شوی پناه پوري اړوند ده.<br>**اوږده مهاله یا دایمی پناه:**<br>دوي کولي شي د مهاجرت پاسپورت چه د (۴۰۰)او یا (۵۳)یورو په بدل کي ورکول کیږی واخلي. او که چیري دوي غواړی نورو اروپایي هیوادونو کي د دریو میاشتو څخه زیات پاتی کیږي، پدی صورت کي دوي باید د اوسیدلو علت (کار، زده کړي) باید رپورټ کوي. ددي ترڅنک وروسته د پنځو کلونو څخه د کروشیا هیواد کی اوسیدل دوي ته د دایمي اوسیدونکو په توګه کتل کیږي. بیا د اشخاص کولي شی چه په نورو اروپایی هیوادونو ته سفر او یا هم |

| | | |
|---|---|---|
| | | کار وکړي.<br>**موقتی پناه اخیستونکي:**<br>دا پناه اخیستونکی نشی کولاي چه د مهاجرت پاسپورت تر لاسه کړي.<br>اما دوي کولاي شی چه د یو بهرنی په حیث پاسپورت واخلی. دا پاسپورت به ددوي د اصلی هیواد پاسپورت په ځیر وي. او نورو هیوادونو ته د سفر لپاره چه ویزي ته اړتیا دوي باید ویزه واخلي.<br>وروسته د پنځو کلونو اوسیدا څخه د کروشیا په هیواد کي، دوي به د دایمی اوسیدونکو په حیث وشمول شی او کولاي شی نورو اروپایی هیوادونو کي کار او یا هم سفر وکړي. |
| سکونت | پناه غوښتونکو د لومری ورځی څخه چه د کروشیا هیواد ته داخل شی کولاي شی همدلته و اوسیږي تر څو چه یی د درخواست فیصله وشی. | قبول شوي مهاجرین کولاي شی په کروشیا کي پاتی شي، که چیری دوي د (۶) میاشتو څخه زیات په بل هیواد کي پاتی شي او د بهرنیو چارو وزارت ته احوال ورنکړي دوي نشی کولاي چه بیرته راشی.<br>د پنځو کلونو څخه وروسته تا سی د دایمی اوسیدونکو په ډول او د اتو کلونو څخه وروسته تاسی کولای شی د کروشیا تابعیت تر لاسه کړي. |